# په افغانستان کې
# بدني مجازات او د اعدام سزا

یوناما، د بشري حقونو څانګه

د ۲۰۲۳ کال د مي میاشت

# ضمیمه

## د حاکم چارواکو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت غبرګون

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د بهرنیو چارو وزارت**

**د بشري حقونو او د ښځو د نړیوالو چارو عمومي ریاست**

**په کابل کې د یوناما د بشري حقونو د څانګې د راپور په غبرګون کې په افغانستان کې د بدني مجازاتو او اعدام په اړه معلومات**

- **د اسلامي اصولو او نړیوالو قوانینو سره سم قانوني چوکاټ**

د حدودو او قصاص د تطبیق او له بشري حقونو او نړیوالو قوانینو سره یې د مقایسې په اړه باید ووېل شي چې د افغانستان ۹۹ سلنه خلک د اسلام د سپیڅلي دین او اسلامي اصولو پیروي کوي، نو له همدې امله قوانین د اسلام له ارشاداتو او احکامو سره سم تاکل کیږي. د بشری حقونو د نړیوال قانونینو او د اسلامی قوانینو تر منځ د ټکر په صورت کې دولت مکلف دی چې د اسلامی قوانینو پیروی وکړی.

- **حدود او قصاص**

هر سیاسي نظام یو له بل سره د توپیر لپاره خپل معیارونه او طریقې لري. په نړۍ کې د یوه اسلامي نظام او نورو سیاسي نظامونو تر منځ توپیر د اسلامي احکامو د تطبیق پر بنسټ دی. له همدې امله د اسلامي امارت له لوري حدود او قصاص نه یوازې مجازات بلکې د الهي قوانینو پلي کول دي. د انسان ژوند او د مال او ځان ساتنه د قصاص لپاره لازمه ده او دا سزاګانې د بشپړو اسنادو، شواهدو، د جرم د ثابتېدو په صورت کې په ډېر احتیاط سره تطبیق کېږي چې په پایله کې یې د خلکو لپاره بشپړ امنیت او خوندي چاپېریال تامینېږي. قصاص د ټولو جرمونو لپاره نه دی، بلکې د قصدي وژنو لپاره دی. همدا ډول حدودي جرمونه ټاکلې سزاګانې لري او د شک د نه شتون په صورت کې یې ځنډول یا نه پلي کول هم جرم دی. اسلامي امارت خپل ټول فعالیتونه د اسلام د سپیڅلي دین په رڼا کې پرمخ وړي او په بشپړ ډول ورته ژمن دی.

د مرګ د سزا په اړه باید یادونه وشي چې دا د اسلامي محاکمو په واک کې ده چې مجرم ته د مرګ سزا صادره کړي یا د نورو مجازاتو په اړه غور وکړي. اسلامي احکام په ټولنه او نورو حالاتو کې د انسان د ژوند ټول اړخونه په پام کې نیسي، د بېلګې په توګه هغه څوک چې د بلوغ عمر ته نه وي رسېدلی او یا دایمي دماغي یا ذهني اختلال ولري، داسې کسان مرفوع القلم[1] بلل کېږي او سزا په دوی د تطبیق وړ نه ده. دا هم د اسلام یو له امتیازاتو څخه دی.

- **د مجازاتو تطبیق**

د مجازاتو او جبري اقرارونو د استعمال په اړه د اسلامي امارت امنیتي ارګانونه د خپلو کاري پالیسیو سره سم خپل فعالیتونه په کلکه ترسره کوي او د شکنجې په واسطه د اجباري اقرارونو سره سخت مخالف دی او د اجباري اقرارونو اخیستل د ګواښونو، شکنجې او روحي او رواني فشارونو په واسطه جرم ګڼي. دا ډول اقرار د جرم د ثابتولو لپاره قانوني او شرعي جواز نه لري. د اسلام مبارک دین له بندیانو او اسیرانو سره د ښه چلند امر کوي. د امنیتي ارګانونو د دستورالعمل څخه د سرغړونې په صورت کې، د عاملینو سره به جدي او قانوني چلند ترسره شي.

[1] یوه عربي اصطلاح چې هغه کس ته ویل کیږي چې د خپل جرم لپاره مسوول نه وي، د بیلګې په توګه: یو رواني معیوب او یا کوچنی وی.

په اسلام کې د مجرم لپاره سزا د جرم نوعیت ته ورته ټاکل شوې چې دا پخپله یو اصل دی چې د جرمونو په له منځه وړلو او کمولو کې خورا مهم رول لوبوي او د یوې باثباته ټولنې په جوړولو کې د پنځو اړتیاو په پوره کولو کې مرسته کوي: دین، نفس، نسل، مال او عقل، او په هیواد کې د اسلامي امارت د بشپړې واکمنۍ په تعقیب مور د دې ټولو د تحقق شاهدان یو. په افغانستان کې د بدني مجازاتو او اعدام یا د مرګ سزا ته په اشارې سره، د یوناما د بشري حقونو راپور په ځانګړې توګه د زندانونو چارو د سمون ادارې د سرپرست ملا نورالدین ترابي مرکې ته اشاره کړې چې له اسوشیټیډ پریس سره یې په خپله مرکه کې ویلي وو "د لاسونو پرې کول د امنیت لپاره خورا اړین دي". په دې برخه کې، د زندانونو چارو د سمون اداره، د یو ملي مسولیت پذیره ادارې په توګه، د بندیانو او محجوزینو د ساتنې، روزنې او تربیې مسولیت لري او د هغوی لپاره د روزنیزو، اصلاحي، حرفوي او کارموندنې پروګرامونو چمتو کوي. دا پدې مانا ده چې د زندانونو چارو د سمون اداره د جرمونو/مجرمانو په تعقیب، د فیصلو په صادرولو او د اعدام، د بدن د اعضاوو د قطع کولو او نورو بدني مجازاتو په ګډون د سختو مجازاتو په پلي کولو کې هیڅ ډول مداخله نه کوي. د افغانستان د اسلامي امارت له بریا څخه تر اوسه پورې، د یوې قضیې پرته چې د یوناما په راپور کې یې هم یادونه شوې، د افغانستان په زندانونو کې د بندیانو د بدني مجازاتو، اعدام او یا مرګ کومه پېښه نه ده رامنځته شوې. د زندانونو چارو د سمون اداره د تل په څېر د زندانیانو د حقونو د تامین او په محاکمو کې د هغوی د دوسیو پر وخت تعقیب په برخه کې خپلې چارې پرمخ وړي.

- **د افرادو توقیف**

امنیتي ارګانونه د افغانستان د اسلامي امارت د یوې برخې په توګه د خپلې عملیاتي تګلارې سره سم د شکمنو کسانو د ساتنې او تحقیق واک او مکلفیت لري. په شکمنو کسانو باندې تورونه کېدای شي داسې اعمال وي چې د دولت حاکمیت کمزوری کړي، امنیتي ستونزې رامینځته کړي او اقتصادي، کلتوري، ټولنیز او مذهبي تخریب رامینځته کړي، نو د دې لپاره اړینه ده چې شکمن تر څارنې لاندې وي.

د راپور په مسوده کې یادونه شوې چې د کندز ولایت څلور اوسېدونکي د واکسیناتورانو د وژلو په تور نیول شوي دي. په دې قضیه کې د یادونې وړ ده چې یاد کسان د جرم د ثابتولو لپاره د کافي شواهدو او اسنادو د نشتوالي له امله د محکمې له پرېکړې وروسته خوشي شول.

په راپور کې د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په ۱۶ د بغلان ولایت په چېې ولسوالۍ کې او د ۲۰۲۲ کال د جنورۍ په ۱۶ د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې او د سمنګان په ولایت کې د بدني مجازاتو په پایله کې د یوې ښځې د وژلو په ګډون په ځینو ولایتونو کې د اسلامي امارت د غړو له خوا د خلکو د بدني مجازاتو ادعا شوې ده. د پورتنیو پیښو په اړه اړوندو ځانګو په مرکز او ولایتونو کې له مربوطه چارواکو سره راپورونه شریک کړل چې په پایله کې ټولو قطعاتو ډاډ ورکړ چې د دوی امنیتي منسوبین په شکنجه کې نه دي ښکیل او پورتني راپورونه یوازې تورونه دي او هیڅ ثبوت نه لري.

د یوناما په راپور کې د فبرورۍ په ۱۴مه د بدخشان ولایت په نسی ولسوالۍ کې د غیر قضايي وژنې یوه بیلګه هم شته چې پکې ویل شوي چې د دغې ولسوالۍ حاکم والي د یو تعداد خلکو په شتون کې پر یوې ښځې د سنګسار حکم تطبیق کړ. دغه موضوع د اړونده ریاست له لارې دبدخشان ولایت له مقاماتو سره شریکه شوه او له هغوی څخه ددغې قضیې په اړوند دقیق او هراړخیزه معلومات وغوښتل شول. د معلوماتو راټولول لا نه دي بشپړ شوي او موضوع تر برسی لاندې ده.

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو وزارت د فعالیتونو په اړه باید یادونه وشي چې دغه وزارت خپل داخلي اصول او ضوابط لري چې پر بنسټ یې محتسبین خپلې دندې ترسره کوي. د امر بالمعروف د وزارت محتسبین نشي کولی خپلې برنامې له قانوني مراحلو د تطبیق پرته پلي کړي او یا خپل سري فعالیتونه ترسره کړي. لکه څنګه چې د یوناما په راپور کې ویل شوي: "د ۲۰۲۲ کال د اګست په ۱۳ په بامیان ولایت کې، د امر بالمعروف محتسبینو دوې نجونې او یوه ښځه له دې امله وهلې چې دوی حجاب یا چادري نه وه مراعت کړې." که دا موارد او د محتسبینو سرغړونه ثابته شي، عاملینو ته به یې د اصولو سره سم مناسبه سزا ورکړل شي. د دا ډول پېښو د مخنیوي په موخه دغه وزارت نظارتي او تحقیقاتي ځانګې لري چې سرغړونې په ګوته او عاملینو ته یې لازم اداري مجازات ورکړي. سربیره پردې، دغه وزارت د خپل کار د سیستماتیک کولو او لا بهبود په موخه یو قانون ترتیب کړی، چې په هغه کې د همدې قانون د تطبیق د تضمین لپاره ځانګړي موارد شامل شوي دي.

- **شکنجه او عدالت ته لاس رسی**

د یادولو وړ ده چې د اسلامي امارت د هرې اداري د مقرراتو سربیره د امیرالمؤمنین حفظه الله لخوا صادر شوې فرمان پر بنسټ ۹۹ ماده ایز طرزالعمل او همدارنګه د اسلامي شریعت احکام هر ډول ځورونه او شکنجه منع کړې. د اسلامي امارت اداري د نظارتي میکانیزمونه په مرسته د پورته ذکر شوي طرزالعمل او شرعي احکامود تطبیق جدي نظارت کوي.
د مدافع وکیلانو په اړه ویل شوي چې دوی خپلو موکلینو او توقیف ځایونو ته د لاسرسي برخه کې د ستونزو او په قضايي پروسو کې د محرومیت سره مخ دي. د یادونې وړ ده، چې د زندانونو چارو د سمون اداره د هېواد په زندانونو کې د اصلاحاتو راوستلو او د بندیانو د شرعي او قانوني حقونو د تطبیق په برخه کې ژمنه ده. د مدافع وکیلانو د لاسرسي په اړه، د زندانونو چارو د سمون اداره د نافذه قوانینو پر بنسټ، محبسونو ته د مدافع وکیلانو د لاسرسي په برخه کې اسانتیاوې برابروي او د بندیانو د حقونو د تامین او زندانونو ته د مدافع وکیلانو د لاسرسي په برخه کې لاندې ګامونه پورته کړي دي:

۱. د بې بضاعته بندیانو لپاره د حقوقي مرستو او مدافع وکیلانو ته هغوی د لاسرسي په اړه د عدلیې وزارت سره د همغږۍ غونډې.

۲. د هیواد په زندانونو کې د بندیانو د حقونو په اړه د پوهاوي د پروګرامونو جوړول.

۳. د زندانونو چارو د سمون د ادارې د مرکزي او ولایتي کارکوونکو لپاره د بندیانو د بشري حقونو او اسلامي حقونو د تضمین او ملاتړ په اړه د روزنیزو ورکشاپونو جوړول.

۴. په مرکزي او ولایتي زندانونو کې مدافع وکیلانو ته د بندیانو لاس رسی.

۵. د هیواد د زندانونو څخه د ملګرو ملتونو او د یوناما د بشري حقونو څانګې د استازو د لیدنو لپاره اسانتیاوي برابرول.

د پورتني مواردو او ترسره شویو اقداماتو په نظر کې نیولو سره او په ځانګړي ډول خپلو اساسي حقونو ته د بندیانو د لاسرسي په برخه کې، د زندانونو چارو د سمون اداره په زندانونو کې د اصلاحاتو راوستلو، د بندیانو د د اصلاح او د بشري حقونو د نقض د مخنیوي په برخه کې ژمنه ده. د شکمنو کسانو د نیولو او توقیف په بهیر کې او په هغه موده کې چې شکمن د امنیتي ارګانونو تر توقیف لاندې وي، زموږ د پالیسیو سره سم هیڅ ځانګه، دفتر یا فرد حق نه لري چې فزیکي او روحي شکنجه، سپکاوی او یا توهین وکړي. په دې برخه کې د بشري حقونو ریاست او نورې اړوندې ادارې مکلفیت او بشپړ واک لري، چې د سرغړونې په صورت کې له عاملینو سره قانوني چلند وکړي.
په ځینو مواردو کې چې د افرادو له خوا حقوقي سرغړونې تر سره شوي وې، څېړنې ترسره شوي او پایلې یې د امنیتي ارګانونو له مشرتابه سره شریکې شوي او د رهبرۍ د لارښوونو پر بنسټ خلاف کاره کارمندانو ته سزا ورکړل شوې ده.
په تېر کال کې ۳۸ سرغړونې ثبت او څېړل شوي او یو شمېر عاملین یې له دندو ګوښه او د خپلو جرمونو له مخې مجازات شوي دي.
هغه مظنونین چې د تحقیق موده او دوسیې یې بشپړې شوې وې، د هغوی دوسیې له اړوندو ضمایمو سره سم د دوی د سرنوشت د معلومولو په موخه محاکمو ته استول شوي او د محاکمو د پرېکړو پربنسټ اجراات ترسره شوي.

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، حدودي او تعزیري سزاګانې په اسلام کې واضح دي او د هغوی پلي کول باید په عام محضر کې ترسره شي. سربیره پردې، که یو څوک د بلوغ عمر ته نه وي رسیدلی، هغه مرفوع القلم ګڼل کیږي، او په نړیوالو قوانینو کې د بلوغ عمر ۱۸ کاله ګڼل کیږي، په داسې حال کې چې په اسلام کې د بلوغ عمر متفاقاً ۱۵ کاله دی.

د دُرو د وهلو لپاره په محکمه کې د جلاد په نوم یو مشخص کس شتون لري او د دُرو یو مشخص شمېر شته چې د مجرم د شرایطو سره سم په عام محضر کې پرې تطبیق کیږي. د دې ډول مجازاتو ګډونوال د امر باالمعروف و نهی عن المنکر کارمندان دي. په لنډه توګه ویلای شو چې د مجازاتو پلي کول لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د هر فرد دنده نه ده او هیچا ته اجازه نشته چې په داسې حساسو چارو کې مداخله وکړي.

**پای**